# د یوحنا رسول درېم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول درېم لیک هم په هماغه وخت کې چې د هغه اول او دوهم لیکونه لیکل شوي وو، د غایوس په نوم د کلیسا مشر ته لیکل شوی دی. یوحنا د غایوس قدرداني کوي، ځکه چې هغه د مېلمنو مسیحیانو سره مرسته کړې ده. همدارنګه هغه د دیوترفیس په هکله چې د مذهبي ټولنې یو ځان ښوونکی مشر دی، خبرداری ورکوي ځکه هغه د هغو مسیحیانو سره مخالفت کوي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱آ – ۴

همکاري او مخالفت: ۵آ – ۱۲

وروستنی خبرې: ۱۳آ – ۱۵

## سلامونه

۱ د کلیسا د مشر له خوا ګران ګایوس ته چې په رښتیا راباندې
ګران دی. ۲ زما ګرانه ملګریه! زه دعا کوم چې په هر کار کې
بریالی اوسې او لکه څنګه چې په روحاني توګه روغ او جوړ یې، نو
همداسې په جسماني توګه هم واوسې. ۳ کله چې ځینې ورونه
راغلل او ماته یې ستا د وفادارۍ په هکله شاهدي راکړه او دا چې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تل په رښتيني لاره ژوند تېروي، نو ډېر خوشحاله شوم. ۴ د دې نه زياته خوشحالي ماته په بل هېڅ شي کې نشته چې کله واورم چې زما اولادونه په رښتيني لاره روان دي.

## د غايوس همکاري او د ديوترفيس مخالفت

۵ ګرانه دوسته! ته په هغه خدمت کې چې دې مسيحيانو ته يې کوې ډېر وفادار يې، که څه هم ته هغوی نه پېژنې. ۶ هغوی د دې ځای کليسا ته وويل چې د هغوی سره څومره مينه کوې. مهرباني وکړه د هغوی سره په سفر کې داسې مرسته وکړه لکه د هغو خلکو په شان چې د خدای خدمت کوي. ۷ ځکه چې هغوی مسيح ته د خدمت کولو په خاطر په سفر روان شول او د بې دينه خلکو نه هېڅ مرسته نه غواړي. ۸ نو مونږ بايد د داسې خلکو سره مرسته وکړو او د حقيقت په خپرولو کې د هغوی سره ملګري شو.

۹ ما ستاسو کليسا ته يو ليک ولېږه خو ديوترفيس چې خپل ځان د نورو څخه لوړ ښايي او زما واک نه مني. ۱۰ که زه درغلم نو د هغو کارونو په هکله چې هغه يې کوي او زمونږ په هکله بېځايه او بدې خبرې کوي، خبرې وکړم. هغه لا په دې هم قناعت نه کوي بلکې خپله هم مسيحيان نه مني او نور هم نه پرېږدي چې هغوی ته هرکلی ووايي او د مېلمنو مسيحيانو مرسته کوونکي د کليسا څخه شړي.

۱۱ زما ګرانه دوسته، د بدې پيروي مه کوه، بلکې د نېکۍ پيروي کوه. کوم خلک چې نېک کارونه کوي، هغوی د خدای اولادونه دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ښوک چې بد کارونه کوي، هغوی هېڅکله هم خدای نه دی لیدلی.
١٢ ټول خلک د دیمیتریوس په هکله ښه شاهدي ورکوي او
حقیقت همدا دی. مونږ هم د هغه په هکله ښه شاهدي ورکوو او ته
پوهېږې چې زمونږ شاهدي رښتیا ده.

## وروستنی خبرې

١٣ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاته یې ولیکم، خو زه نه
غواړم چې تاته هغه په قلم باندې ولیکم. ١٤ زه هیله لرم چې ډېر
زر دې ووینم او مخامخ در سره خبرې وکړم.

١٥ سلامتي دې وي په تا باندې. ټول دوستان دې درباندې
سلامونه وایي، زمونږ هر یو دوست ته سلامونه ووایه.


afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ٢٠٢١
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.